اداریه

بسم الله الرحمن الرحیم

# باچاخان یونیورستي
# او
# د باچاخان تعلیمات!

د ډېر افسوس مقام دے چې کوم انسان د یو پښتون او رښتوني مسلمان په حیثیت د پیرنګي د غلامۍ په زمانه کښې د پښتنو د اصلاح دپاره او د غلامۍ د ژوند نه د نجات دپاره په نه وارخطا کېدونکې جذبه جدوجهد شروع کړو. نه یوازې دغه اصلاحي کار او عمل ئې په مخکښې بوتلو. بلکې هم په دغو پښتنو ئې د یو لوئې جابر پیرنګي نه آزادي هم واخسته. په یو وخت هم د اصلاح عمل او هم د آزادۍ جنګ کول کوم اسان کار او عمل نۀ ؤ. دغه قسمه نه ستړے کېدونکے جدوجهد هغه او د هغه ملګرو قریب قریب په یوه پیړۍ خور ؤور وکړو. خو د هغه او د هغه د رورولۍ او عزیزولۍ دغه ګران وطن د دې ځائې د غلطو پالیسي سازو حکمرانانو د لاسه په سرو وینو کښې اولمبېدو. په ۲۰ جنورۍ ۲۰۱۶ په باچاخان یونیورستۍ حمله وشوه دوه ویشت نوي تازه ځوانۍ پکښې ورژېدلې. او د دې نه زیات پکښې زخمي شوي هم دي. دا پېښنه د خپل نوعیت دویمه بابره ده. چې خلق ئې د کربلا سره تشبیح ورکوي.

دې واقعې سره چې په میډیا کوم الزامونه مخې ته راغلل. هغې د عامو خلقو په ذهن کښې هم ډېر شکونه او سوالونه پیدا کړل دا شکونه او سوالونه هسې نه دي. دا د دیارلسو څوارلسو کالو د دغسې حملو او په هغې د بحثونو نه پېدا شوي هغه شکونه دي څه ته چې سړے اجتماعي شعور وئیلے شي.

د باچاخان د عدم تشدد فلسفې او د امن خیال چې د پښتنو په ذهنونو کښې د یقین کومه کرونده کړې ده که د هغې دغه نقش خدائې مکه د پښتنو د زهنونو نه وران شو او خلقو ته د حکومت په ځائې د خپلو ادارو،ځایونو،کورونو،حجرو او جماعتونو دنده ور په سر شوه نو دا به ښې نتیجې ونه لري. حال دا دے چې د دغې فلسفې نه یوازې دې ملک او د ملک ګاونډ ته ضرورت دے بلکې ټولې دنیا ته ئې ضرورت دے. باید چې دې ټولو خبرو ته په وخت توجه ورکړے شي.

# د اجمل خټک شپږم تلین

اجـمـل خټک د پښـتـون قام یو لوئې سیاسي مشر او اتل ؤ. لوئې شاعر او ادیب ؤ. په ۷ فـروری د هـغــه د شپږم تـلیـن ورځ ده. د خټک صېـب ژوند او جدوجهد نـه یوازې د پښـتـنو د جـدوجهد د تاریخ یوه روښانه برخه ده بلکې د هغه ژوند او فن، ژوند او جدوجهد په ټول پښـتـون افـغـان قـوم کښې یـوه داسې پېژندګلو لري چې هر څوک ئې د نوم کار او عمل سره اشنا دي. د هـغـه د شـاعـری پـلـوشې هر طرف ته خورې دي. او تل به ئې خلق په زړهٔ او نظر پورې نیولې ګرځوي.

# پښتو ژبه او پښـتـانه

وئـیـلـے کېږي چې دا ځـل د سـکـولـونو د پینځم جماعت د پښتو پرچه نۀ ده جوړه کړے شـوې او پـه پښـتـنو کښې دا ویره خوره شوې ده چې صوبائي حکومت پښتانه د خپلې ژبې نه یا ژبـه د پښتنو نه شوکول غواړي. اوس کال په کال په ټوله دنیا کښې د مورنو ژبو د تحفظ دپاره یـوه ورځ مقرر وي. دغه ورځ په پښـتـنو کښې هم خلق نمانځي. او د هرې مورنی ژبې د حفاظت دپـاره غـونډې کـوي. او ادبـي ثقافتي تنظیمونه د ژبې په ضرورت او اهمیت خبرې کوي. او د خلقو توجه حاصلوي.

د بـده مرغه سخکال زمونږ د صوبې حکومت د نورو زړهٔ چاودو مسئلو سره مخ د صوبې اوسېـدونـکـي د یـوې دغسې مسـئـلې سـره هـم مـخ کړي دي. د دې صـوبې خیبرپښـتـونخوا د حـکـومـت خـلـق هم د دې صوبې خلق دي. د دې قامولی،رورولی او عزیزولی خلق دي. د ژبې دپاره دلته په کلونو کلونو کار شوے دے. او اوس د دې ژبې د خوږو سره سره د دې په اهمیت او ضـرورت هم پوهه شوي دي. چونکې دا یو جمهوري ملک او د ملک یوه جمهوري صوبه ده. نن بـه د یـو چـا حـکـومـت وي سبا د بل چا حکومت!! باید چې هیڅوک هم د دې ځائې د رورولی او عزیزولی د کلچر نه هم اونه وځي. او په ډېرو خوارو د ګټل شوي کلچر د چوکاټ نه هم ځان اونه بـاسـي. پـه ځائې د رورولی د نفرت بنیادونه کیښودل به د دې خاورې د راتلونکو نسلونو سره زیـاتې وي. بـاید چې د صوبې حکومت او د حکومت دننه زمونږ دغه رونړه،عزیزان په خپله دغه فیـصـلـه نظر ثاني وکړي. او په دې سوچ او فکر وکړي چې اوس د دې ژبې د ضرورت سره خلق اشـنـا شوي دي. یو قسم له زهني طور په دې حواله پښتانه زنګېدلي دي. د دغې شعور ونې یو ګـروت هـم شـروع کړے دے دا دې ترې غوڅوي نه. ځکه چې که داسې هر چا کړي دي خو هغه د پښـتـنـو نه نۀ ؤ. بلکې غیر خلق وو دوي خو د دې رورولی او عزیزولی خلق دي دوي دې هر ګز داسې نه کوي چې دا زمونږ د بچو د مستقبل د مرګ او ژوند مسئله ده.